

# شمیر پوهنه

## د ښوونځي لپاره

(ریاضي په درې برخو کې)

دویمه برخه

۲

Ketabton.com

لیکونکی:
برینکمن (له برینکمن ن ج څخه)
ژباړی: ډاکتر ماخان (میږی) شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونځي لپاره شمیرپوهنه

( د المان )

په درې برخو کې




دویمه برخه

لیکونکی: برینکمن(له برینکمن ن ج څخه)

ژباړی: ډاکتر ماخان (میږی) شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هيله، چې په دې ليکنو او ژباړو به مې زموږ د بې وزلي او له پوهې پاتې ملت - په ما د پوهني لپاره د لګښت - لپاره د پوهني په لور داسي لږ ونده اخستي وي.

## د کتاب پيژند


د کتاب نوم: شميرپوهنه دښوونځي لپاره

ليکونکی: پرفيسور برينکمن

ژباړی : ډاکتر کاخان،، ميرې،، شينواری

برېښنا پته: makhanshinwari@gmail.com

د خپريدو لړی

خپرندوی: د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

جرمني

چاپ نېټه ۲۰۱۲

چاپځای: دانش کتابتون

Danish2k2000@yahoo.com


د چاپ حقوق خپرندوي ټولني ليکونکي يا ژباړي سره خوندي دي.

پښتو مو ژبه او شميرپوهنه پرې ساده ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خپرندوی ټولنې یادښت

له هغې مودې را په دې خوا، چې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د علمي، ساینسي او طبي اثرو د خپرولو لړۍ پیل کړې، تراوسه یې په دې لړ کې مهم اثار خپلو هیواولو ته وړاندې کړې دي.

موږ باور لرو، چې پښتو ژبه هغه وخت په یوه مهمه غني ژبه بدلیدلای شي، چې د پوهې په ګانه سمبال شي او په علمي او اکاډمیکو اثارو غني شي.

اوس چې زموږ ملي سراسري ژبه د بیلابیلوګوابښونو او چلنجونو سره مخامخ ده، پر موږ ټولو ده، چې د دغه ګوابښونو په وړاندې به په نره ودرېږو او د علم او قلم په ژبه به ځواب ورته ووایو.

د اتحادیې له حوا د ډاکتر ماخان شینواري تراوسه زیاتو چاپ شویو اثارو په څنګ کې، د ده د پنځه وېښت شمیر پوهنې نویو ژباړو او لیکنو او دوه ټولنیزو لیکنو تر منځ، دغه اثر په همدې لړ کې ځکه د ارزښت وړ دئ، چې د علمي، ساینسي اثارو د خپراوي په لړ کې د یوه مهم ګام په توګه ګڼل کیدای شي او هیله ده، چې د دې برخې مینه وال لوستوال، زده کوونکي او د پوهنتو زده کړې کته ترې واخستلی شي.

په درناوي

د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

۲۰۰۱۲ ز ک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړې مننه

د هر څه له مخه د هغو ليکونکو پروفيسرانو څخه زياته مننه، چې د ليکنو څخه يې زما د ژباړې لپاره تفاهم لري. ماته د دوي د ليکنو د ژباړې په هيڅ ډول مادي ګټه نه شته او دا کار مې يوازې په يوه د پوهنې توانمندې ، مګر وروسته پاتې ژبې ويونکي ولس ته وړاندې دی، دا دې د دې پروفيسرانو له خوا په پوهنيزه اړخ کې زموږ په دې اړخ کې هم مرستې ته اړ ولس سره مرسته وي.

همدا ډول زموږ،، د افغانسان کلتورې ودې ټولنه،، جرمنې، د غړو، مرستندويانو او په تيره بيا د مشر تابه څخه زياته مننه کوم، چې پرته له خپرندوې ټولنې په توګه يې د دې ليکنو زياته اقتصادي ونډه هم په غاړه اخستې.

دې لاندې زما کليوالو ملګرو او ملګرو د دې کتابونو په چاپ کې د توان سره سمه اقتصادي ونډه اخستې، چې زه ترې زياته مننه کوم:

د ښاغلي ډپلوم انجنير ريحان الدين حساس، ښاغلي ډپلوم انجنير محمد اکبر نور، ښاغلی ډاکتر سردار ګانه وال، ښاغلی ډاکترمانوګل ګانه وال، ښاغلي ټولنپوه محمدعارف بيان، ښاغلي ډپلوم انجنيرمحمد ايوب بيان، همداسې زما د ملګري اروابناد ډاکتر حاجي محمد سلطانزي د ځوي ښاغلي ډاکتر صالح محمد سلطانزي ، ډپلوم انجنير او ډپلوم اقتصاد پوه رحمت الله فتحي او نه اخر زما د لور ډاکتر ځانګې شينواري او زما د ځوي اقتصاد پوه او ټولنساپوه اباسين شينواري.

نه د ټولو په اخر کې زما له ميرمن ښاپرئ څخه ډېره زياته مننه، چې زما د ليکنو- نه دا چې مخه يې نه ده نيولې- پوره ملاتړ کړي.

بيا هم له دوي څخه د زړه له کومې مننه کوم او لوي څښتن دې ورته اجرونه ورکړي، چې داسې مرستو ته دوام ورکړي.

په مننه : ستاسو ماخان شينواری

جرمني د بن ښار

۲۰۱۲ ز ک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نيوليک

دويمه برخه

د زباړي سيزه

لومړی: کرښيز فنکشنونه ۱

۲ . ۱ . ۱ کرښيز مساواتو ته پيل ۱

۲ . ۱ . ۲ – د محور د تقاطع ټکي ۶

۲ . ۱ . ۳ - جګيدنه يا ميلان ۹

۲ . ۱ . ۴ – د فنکشنونو د ګراف رسمول ۱۳

۲ . ۱ ۵ تمرينونه ۱۵

۲ . ۱ . ۶ – کليمې او د انځورولو... ۱۶

2.2کرښيز فنکشنونه د ورکړشوو شرايطو سره ۷۵

۲ . ۲ . ۱ – لومړی حالت ۷۵

۲ . ۲ . ۲ دويم حالت ۷۷

۲ . ۲ . ۳ – تمرينونه ۸۱

۲ . ۲ . ۴ - تمرينونه

2.3د دوه کرښو پروتځايونه يو بل ته ۱۶۱

۲ . ۳ . ۱ – د دوه کرښو غوڅټکي ۱۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲ . ۳ . ۲ - یو بل سره عمود یا ولاړ ځغلیدونکي کرښې ۱۶۵

2,4د کرښیز مساواو په مرسته دپرابلمونو یا مسألو حل ۱۹۷

۲ . ۴ . ۱ – ورځني ستونځوبي یا د ستونځو حل ۱۹۷

۲ . ۴ . ۲ د کرښیز مساواتو ټولګه ۲۶۰

۲ . ۶ - مربع توابع ۲۸۲

۲ . ۷ - د مربع فنکشنونو یا توابعو.... ۴۰۱

۲ . ۸ - د پارابول او کرښې غوڅټکي ۴۳۵

۲ . ۹ - د پاررابول او پارابول غوڅتکي ۴۵۳

۲ . ۱۰ - د ورکړشوو شرایطو سره د ..... ۴۵۶

۲ . ۱۲ اقتصادي توابع(نرخشمیرنه) ۵۵۱

۲ . ۱۴ توانتوابع ۵۵۸

۲ . ۱۳ د ټول راشنل – یا نسبتي توابعو... ۵۹۱

پولینوموېش ۵۹۵

د هورنر شیما ۵۹۸

۲ . ۱۴ د ټولراشنل – یا نسبي توابعو ګراف ۶۴۸

۲ . ۱۵ د ورکړشوو شراطو له مخې د تابع مساواتو لیکل ۶۸۵

۲ . ۱۶ د وکتور شمیرني بنسټیزې کلمې ۷۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

# د ژباړي سريزه

ګرانو هيوادوالو او د شميرپوهنې مينه والو!

د ا څو کاله د مخه د ځنو شميرپوهنيزو کلمو په لټه کې د برينکمن د ن ج سره مخامخ شوم. دا چې دې ليکنې ښه خوندويونه يا متن درلود او زيات تمرينونه د حل سره، نو ما وبتيله، چې دا به پښتو ته اړوم. دا يوه ډېره ښه ليکنه ده، چې زده کوونکي ښوونکي او داسي لړ د شميرپوهنې سره بلد ميندې او پلرونه ترې ګټه اخستلی شي. په دې ليکنه کې هر څه خورا ښه روښانه شوي دي او په مختلفو بيلګو سمبال دي د حلونو يا اوبيونو سره، چې لوستنه يې هر د شميرپوهنې مينه وال لپاره د پيرځوينې وړ بولم.

کتتاب په درې برخو کې چاپيږي، چې هره برخه يې يوه خپلواکه او د يوې ځانګړې برخې خونديونه لري. زه په دې باور لرم، چې د شميرپوهنې مينه وال دا کارداسي لړ په غور وګوري، نو زر به ورسره مينه پيدا کړي.

دا کتابونه هم د هغو ۲۵ رياضي کتابونو لړۍ ده، چې ما چاپ ته چمتو کړي دي، خو نه پوهيږم، چې څو دا نور به ترې کله چاب شي. که څه پاتې شو، نو هغه به د دې کتابونو سره ن ج ته پورته کړم.

ګرانو لوستونکو!

دا زموږ د هيواد اړتيا لپاره په پوهنيزه اړخ کې په سره تيره اوبه تويول دي. دا کتابونو، چې کوم چې چاپيږي د زر دانو يا پنځه سوه څخه به نه اوړي، نو د يوه پنځوس ميليونه کمو زيات ولس لپاره زردا نې چې چاپيږي، دا خو اصلاً په شمير کې نه راځي،خو دا به په خروار ګڼو.

په لومړي کتاببرخه کې ځمککچپوهنه يا هندسه ورسره مل ده او په دويمه کتاببرخه کې مې وکتور شميرنه ورسره زياته کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

دریمه کتاببرخه مشتق او انتیګرال ته ځانګړې شوې.

ګرانو لوستونکو!

د برینکمن د لیکنو لړۍ د شمیرپوهنې په څانګه کې د ښوونځیو لپاره نوره هم پسې غزېدلې، چې ما هغه د ګرانو لوستونکو لپاره رازباړلې.

دا احصایه یا ستاتیستک دی او د احتمالوالي شمیرنه ده. دا دواړه کتابونه، چې دلته یې تاسو ته ژباړه وړاندې کیږي، هم په زیاتو تمرینونو، اود دوی په اوبیونو یا حلونو سره سمبال ده.

زما په اند، داسې لیکنه په پښتو کې د لومړي ځل لپاره کیږي، چې نومه ونې به دلته هم څه ناڅه ګرانو لوستونوکو ته نابلدې وي، خو پرې پوهیدنه شونې ده. هر څه په روښانه توګه ورکړل شوي.

ګرانو هیوادوالو!

داچې ما یوځای یا نوره هم ښه په یوه وار ډېر کار را ونیوه، نو هرومرو به ناتیکاوي زما له خوا په کې رامنځ ته شوې وي، خو دا به داسې ناتیکاوي نه وي، چې شمیرپوهنیزې ستونځې رامنځ ته کړي. له دې امله له ستاسو څخه زما په ستونځو پوهیدلو له امله زیاته مننه.

په دې هیله ، چې زما په غوښتنو او ستونځو به و پوهیږي په دې لیکنو او ژباړه کې ما ته هیڅ مادي ګټه نه شته. دا دې په ما زموږ د بې وزلي ولس د ډېر مصرف(لګښت) په هکله د یوې کوچنۍ پیرزوینې په حیث وړاندې وي

## مننه:

له هر څه د مخه د دې لکچرنوټونو لیکنو لیکونکو شمیرپوهانو یعنې ستر پروفیسور بریکمن څخه زیاته مننه، چې د لیکنو څخه یې زموږ هیوادول هم ګټه احلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# 1 . 2 - كرښيز- يا خطي فنكشنونو (توابع)

## ننوتنه:

### 2.1.1.پيل يا ننوتنه:

د مخه درسونو څخه د كرښيزو ( لايني) توابعو( فنكشنونو) سره د ګراف په څير بلد يو او د تابع مساوات سره د كرښيز مساوتو په څير بلد يو. متناسبې اړېكي يا تناسب ټولګې يا ا ړيكې د كرښې په څير انځوريدلاى شي.

بېلګه:

په بازار كې د ماهي پلورونكي سره 1000 g ماهي 4,50 € قيمت لري، ميرمن پښتنه غواړى 3000 g واخلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

دا باید 4,50€.3=13,50E ورکړي. ښاغلی سپین 5000 g اخلی او باید 4,50 € · 5 = 22,50 € : ورکړي .

په تولیزه توګه ویلای شو: دK ارزښت د ثابت قیمت p سره د رانیونکي سټ(ډېرۍ) xلپاره K=p.x دی.

یعني قیمت K دx په واک کې دی یا دx تابع دی. ، له دې امله دx تابع او له دې امله فنکشن دی،

د دې لپاره لیکو : K(x) = p.x .

K(x) د ارزښت تابع یا فنکشن هم بلل کیږي

د ماهی لپاره د قیمت تابع (یا د نرخ فنکشن) دی، د کوم لپاره چې د سټ واحد( د ډېرۍ یوون) په € او x د 1000g څو څله د سټ واحدونو شمیر دی .

که د(K(x په ځای y ولیکو، نو راته څرګند مساوات y = 4,50 x ترې رامنځ ته کیږي. دا په کواوردینات سیستم (د وضعیه قیمت سیستم یا پروت ولاړ سیستم) کې د صفر له ټکي څخه تیرېدونکي یوه کرښه ده.

بیلګه :

غورځنګ د ملفون ( موبایل یا لاسي تلفون) قرارداد کړی، چې د میاشتي € 20 ورکوی او د دقیقي د تلفون قیمت یې € 0,2 دی. پوښتني.

الف: څومره باید غورځنګ تادیه کړی، که دی 30 min, 60 min, 90 min, 120 min تلفون وکړي.

ارزښت په یوه ارزښتجدول کې انځور کړئ.

ب : په یوه مناسب وضعیه قیمت سیستم کې یې ګراف رسم کړئ.

پ: د ارزښتشمیرني لپاره یې د تابع مساوات څنګه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

حل و الف ته : قيمت له يوه زياتيدونی يا جمعي ثابت (€ 20) او (0,2 x) واريابلي يا متحولي برخي څخه منځ ته راځي، چيرته چي x د تلفون شوو دقيقو تعداد دی.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د خبرو دوام په دقيقو | 0 | 30 | 60 | 90 | 120 |
| قيمت په € | 20 | 26 | 32 | 38 | 44 |

حل و ب ته: ګراف، y قيمت په €، پروت: په دقيقو د خبرو دوام




حل و پ ته: x په دقيقو د خبرو خپلواکه متحوله ده $y = f(x)$ په € د تولي مياشتي د تول مصرف بلواکه متحوله يا تابع ده . په لاندي شميرنه کي يوونونه( واحدونه) دقيقي او€ يورو نه ليکل کيږي.

داسي مخ ته ځو:

| | |
|---|---|
| بنسټ پيسي بايد تاديه شي | 0 min: $y = f(0) = 0,2 \cdot 0 + 20 = 20$ |
| | 30 min: $y = f(30) = 0,2 \cdot 30 + 20 = 26$ |
| | 60 min: $y = f(60) = 0,2 \cdot 60 + 20 = 32$ |
| | ........................................................ |
| د x دقيقو دوام لپاره د تابع مساوات | x min: $y = f(x) = 0,2 \cdot x + 20$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بيلګې :

د فنکشن (تابع) مساواتو جوړښت لپاره بيلګې:

يو د اوبو ډنډ 1000 ليتره اوبه لري.. هره رځ دې ته 100 ليتره نورې اوبه راځي.

د اوبو سټ لپاره د تابع مساوات داسې دي $f(x) = 100 \cdot x + 1000$ :

اباسين هره مياشت € 1300 معاش اخلي. د معاش لپاره فرمول په € يورو.

د معاش لپاره د تابع مساوات دی: $f(x) = 1300 \cdot x$

يو ټانک 4000ليتره ډيزل لري. يو موټر هره روځ 500 ليتره مصرفوي.

د ټانګ منځپانګې لپاره د تابع مساوات : $f(x) = -500 \cdot x + 4000$

که د تابع متناسب اړيکې برقرار کيږي، نو لاندې فکر اړين دی:

ايا يو پيل ارزښت $a_0$ شته ؟

تر منځ تغير ارزښت څومره دی ( د بيلګې په توګه هره روځ، دقيقه يا وزن).

تغير ارزښت مثبت يا منفي دی( مثبت = زياتيدنه، منفي = کميدنه)

کرښيز مساوات په لاندې بڼه پيژنو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$y = m \cdot x + b$ يا $y = m \cdot x + n$

دا چي کرښيز مساوات د ټول راشنل توابعو کورنۍ پورې اړه لري، چي د لوړو ټولګيو موضوع ده، نو انځوريز ډول يې له پيله په همدې ډول منځ ته راغلی وي.

تعريف :

## n -مه درجه ټول راشنل- يا هوښيار توابع:

يوه تابع $f(x)$ د $f(x) = a_n x^n + a_{n-1} x^{n-1} + a_{n-2} x^{n-2} + \ldots + a_2 x^2 + a_1 x + a_0$

سره n -مه درجه ټول راشنل يا ټول نسبتي يا کسري تابع بلل کيږي.

عددونه $a_n ; a_{n-1} ; a_{n-2} ; \ldots a_2 ; a_1 ; a_0$ ضريبونه ( ځلوهووني) بلل کيږي.

دا چي دواړه اخرني زياتووني يا د جمعي برخې $a_1x + a_0$ په کرښيز و مساواتو اړه لري، تعريف ترې لاس ته راځي:

تعريف يا پيژند: ټول د لومړۍ درجې راشنل توابع :

يوه تابع $f(x)$ د $f(x) = a_1 x + a_0$ سره او $a_1 \in \mathbb{R}, a_0 \in \mathbb{R}$ سره د 1-مې درجې ټول راشنل تابع بلل کيږي

د تابع درجه د x د خورا لوی اکسپوننت يا جګ عدد ( چي دلته 1 دی، ځکه چي $x = x^1$ ) ټاکل کيږي.

دلته ضريب $a_1$ د m او $a_0$ دb يا n لپاره ليکل شوی.

د ،، کرښيز ې يا لاينيز تابع،، اړيکي په دې وداني دي، چي د کرښيزې تابع ګراف په وضعيه قيمت سيستم (پروت ولاړ سيستم) کې يوه کرښه انځوروي.

په ياد ولرئ: د کرښيزې تابع ګراف يوه کرښه انځوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيلګه: د کرښيز تابع د تابع مساواتو لپاره بيلګې:

$f(x) = 2x - 13 \quad f(x) = \frac{3}{4}x + 3 \quad f(x) = -\sqrt{3} \cdot x - \pi \quad f(x) = 5$

$f(x) = 3x + a_0 \quad f(x) = a_1 x$

. تمرين ۱ :

د D ټول عددي (تام عددي) ارزښت لپاره ارزښتجدول وليکئ او د ګراف رسم يې وکاږئ.

$f(x) = \frac{3}{4}x - 3$ تعريف سټ $D = \{x \mid -1 \le x \le 5\}_{\mathbb{R}}$ ،

د تعريفست D لپاره د ارزښت سټ W وټاکئ.

ګراف په کومو ټکو کې د وضعيه قيمت سيستم محورونه قطع کوي؟

## 2.1.2.د محور د تقاطع ټکي ( غوڅټکي)

|  | محور غوڅټکي ( د تقاطع نقاط) هغه ټکي دي په کومو کې چې ګراف د وضعيه قيمتونو محورونه غوڅوي يا قطع کوي. دا ارزښتونه لږ يا زيات له ګراف څخه هم لوستل کيدی شي. زيات وخت دا د ارزښتجدول څخه هم لوستل کيدی شي. |
|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

اوس موخه دا ده چي دا ارزښتونه د ګراف او يا جدول ټاکلو لپاره وکارول شي يا استعمال شي.

## $P_y$ د y محور سره د تقاطع- يا غوڅټکي ټکی (Ordinate) :

د ټولو ټکو دx ټول ارزښتونه چي دy په محور پراته دي ارزښت x = 0 لري.

د لاينيزو (کرښيزو) توابعو عمومي مساوات: $f(x) = a_1x + a_0$

شرايط: $x = 0 \Rightarrow f(0) = a_1 \cdot 0 + a_0 = 0 + a_0 = a_0 \Rightarrow P_y(0 \mid a_0)$

د y محور سره د تقاطع ټکی د $a_0$ له خوا - يا سره ټاکلی.

بيلګه:

$$f(x) = \frac{3}{4}x - 3$$

له دي لاس ته راځي چی : $P_y$ کواوردينات (0,-3) لري. د دي لپاره ليکو: $P_y(0,-3)$

په ياد ولرئ: د y محور سره د تقاطع ټکی د $f(x) = a_1x + a_0$ بڼي د ټولو کرښيزو توابعو لپاره کيدی شي مستقيماً له تابع مساوات څخه و لوستل شي. له دي څخه لاس ته راځي: $P_y(0, a_0)$

## $P_x$ د x محور يا پراه محور سره غوڅټکی يا د تقاطع ټکی(Abszisse) :

د ټولو ټکو د y ارزښت ( د تابع ارزښت) ، چي دx په محور پراته دي، ارزښت 0 لري.

حل: د $P(x \mid f(x))$ له امله لرو: $P_x(x \mid 0) \Rightarrow f(x) = 0$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بيلګه:

د لاندې تابع د محوررونو سره د تقاطع ټکي وټاکی او ګراف يې رسم کړی.

$$f(x) = -\frac{2}{3}x + \frac{3}{4}$$




د y محور سره د تقاطع ټکی

$$f(0) \Rightarrow \underline{P_y\left(0 \,|\, \frac{3}{4}\right)}$$

د x محور سره د تقاطع ټکی

$$f(x) = -\frac{2}{3}x + \frac{3}{4} = 0 \Leftrightarrow -\frac{2}{3}x + \frac{3}{4} = 0 \,|\, -\frac{3}{4}$$

$$\Leftrightarrow -\frac{2}{3}x = -\frac{3}{4} \,|\cdot \left(-\frac{3}{2}\right) \Leftrightarrow x = x_s = \frac{9}{8}$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{P_x\left(\frac{9}{8} = 1{,}125 \,\middle|\, 0\right)}}$$

د x محور سره د تقاطع ټکی د x کواوردينات (پروت سيستم) هم صفرځای بلل کيږي.

ځکه چي د دې -x ارزښت لپاره ( په دې ځای کي x) د تابع ارزښت صفر دی.

**تمرين ۲ :**

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د محوررونو سره د تقاطع ټکي وشمیرئ او د $f(x) = -\frac{2}{3}x + \frac{3}{4}$ لپاره ګراف و کاږئ.

او په $f(x)$کي د اینوولو سره صفرځایونه و ازمایئ.

## 2.1.3.جګیدنه( جګوالی) یا میلاند :

زیات ګاډي یا موټر کړئ شي فقط کم جګوالی ووهلی شي. له دې امله په غرونو کې غاخیز ې پټلی یا د پړو ( د وسپنې پړو) ( د جګیدن کوټې لپاره) کینسول کیږي یا نسبیږي یا غزیږي، دا هم د مایلو واټنونو لپاره.:

| | |
|---|---|
|   | د سرکتخته باندې ،، 12%جګوالی،، په دې معنا دی: په 100 m متره پروت ( افقي) واټن په 12 m متره جګیږي.<br><br>په لاندې کې Steigungsdreieck = د جګیدنې درېګوډی یا- مثلث<br><br>  |

دجګوالی توپیر او افقی کرښې تر منځ تناسب جګوالی یا میلان بلل کیږي.

په انځور شوی حالت کي دی: $12\,m : 100\,m = 0{,}12 \triangleq 12\%$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

پیژندنه(تعیف):

جګوالی=m = مخامخ اړخ پر ګاوندي اړخ

= تانجنت α ۱

$$\tan\alpha = \frac{\text{مخامخارخ}}{\text{په پروت اړخ}} = m = \text{جګوالی}$$

کونج α ۱ د جګوالي کونج هم بلل کیږي.

لاندې الماني په پښتو:

ولاړ:مخامخ اړخ، پروت: په پروت اړخ







په ښکته کې تشکیل ګراف کې یوه سرچینه یزه کرښه جوړه ده، چې له ټکو $P_1$ او $P_2$ څخه تیریږي.

د کرښې جګوالی دې د ټکو او کواوردیناتو په مرسته پیدا شی.

د ګاونډي او مخامخ اړخونو اوږدوالی د د دواړو ټکو د کواوردیناتو دکمښت(تفریق) له لارې کره شوی.

د کمښت یا توپیر لپاره لیکو:

$$\Delta x = x_2 - x_1$$

همداسې

$$\Delta y = y_2 - y_1$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

قضيه:

د جګيدني مثلث څخه د کرښې جګوالی شمیرل کيدی شي:

جګوالی $= m = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{f(x_2) - f(x)_1}{x_2 - x_1} = \tan(\alpha)$

په يوه کواوردیناتسیستم کې د کرښې جګوالی د يوه په خوښه قايمالزاويه مثلث (ولاړګوډيز درېګوډی) د پراته اړخ په مخامخ اړخ تناسب دی ، چې اوږد اړخ يا نيمی يا قطر Hypotenuse يې د تابع د ګراف برخه ده.

ګومان مو نږدې دی، چې د $a_1$ ضريب د کرښې مساواتو $f(x) = a_1x + a_0$ د جګوالي دنده په غاړه لري.

دا بايد اوس وښوول شي.

غوښتنه:

جګوالی $m$ د کرښمساواتو ضريب $a_1$ په ګوته کوي..

$f(x) = a_1x + a_0$

ښوونه:

$f(x_2) = a_1x_2 + a_0 \qquad f(x_1) = a_1x_1 + a_0$

$$m = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{f(x_2) - f(x_1)}{x_2 - x_1} = \frac{a_1x_2 + a_0 - (a_1x_1 + a_0)}{x_2 - x_1}$$

$$= \frac{a_1x_2 + a_0 - a_1x_1 - a_0}{x_2 - x_1} = \frac{a_1x_2 - a_1x_1}{x_2 - x_1} = \frac{a_1(x_2 - x_1)}{x_2 - x_1} = a_1 \Rightarrow \underline{\underline{m = a_1}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

جمله :

د یوه کرښیز تابع $f(x) = a_1x + a_0$ د ګراف جګوالی چې له ټکو $P_1(x_1, y_1)$ او $P_2(x_2, y_2)$ څخه تیریږي د ضریب $a_1$ لخوا ټاکل کیږي.

$$a_1 = \frac{\Delta y}{\Delta x} = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{f(x_2) - f(x_1)}{x_2 - x_1} = \tan\alpha$$

په لنډه بڼه

$$\underline{\underline{a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1}}}$$

که د یوې کرښې دوه ټکي د کواورردیناتي له لارې ورکړ شوي وي، نو کیدی شي، چې

اول . کرښې رسمیږي، که دواړه ټکي سره و نښلول شي او دا داسې مځ ته راغلي کرښه له ټکو اخوا وغزوي.

دویم. د کرښې جګوالی د د جګوالي مثلث په مرسته وشمیری

بیلګه :

$P_1(-1|-2)$ او $P_2(3|1)$

دې د یوې کرښې ټکي وي، چې جګوالی یې ټاکل کیږي




$P_1(\underbrace{-1}_{x_1}|\underbrace{-2}_{y_1}) \Rightarrow x_1 = -1$ او $y_1 = -2$

$P_2(\underbrace{3}_{x_2}|\underbrace{1}_{y_2}) \Rightarrow x_2 = 3$ او $y_2 = 1$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{1-(-2)}{3-(-1)} = \frac{1+2}{3+1} = \frac{3}{4} = tg(\alpha)$$

$$\alpha = arctg\left(\frac{3}{4}\right)$$

د جبشمیري په مرسته لرو: $\Rightarrow \alpha \approx 36{,}87^0$

## 2.1.4.د فنکشنونو (توابعو) د ګراف رسمول

د کرښیزې تابع ګراف تل کرښه ده. د یوې کرښې د رسمولو لپاره دوه ټکي اړین یا ضروري دي. که د تابع مساوات معلوم وي، نو د y محور سره غوځیکی یا د تقاطع ټکی $P_y$ هم پیژنو. دویم ټکی د جګوال له لارې لاس ته راوړی شو( د جګوالي مثلث).

| بیلګه : | |
|---|---|
| $f(x) = -0{,}5x - 1$<br>$a_1 = -0{,}5 = -\frac{1}{2} \quad a_0 = -1$<br>ګراف د y محور په $P_y$ (0,-1) کي غوځوي یا قطعه کوي. دا ټکی په کواوردینات سیستم کي رسمو. د $P_y$ څخه دوه واحده یا یونونه ښي لورته ځو او یو واحد یا یوون کښته لور ته. موږ P(2,-2) لاس ته راوړو. اوس د $P_y$ P سره نښلوو او کرښه دواړو لورو ته غزوو. |  |

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

که غواړو د کرښې له يوه ټاکلې ټکي څخه، د جګوالي مثلث له لارې دويم ټکی ته راشو، کيدی شي دا لاندې لنډه بڼه په ياد کې ونيسو:

په ياد ولرئ: د مخرج واحدونه ښي لور ته ، د صورت واحدونه د مخنخښې په واک يا تابعيت کې پورته يا کښته لور ته.

دلته باور لري: د + لپاره پورته لور ته او - لپاره کښته لور ته

که دواړه ټکي ډېر نږدې پراته وي دا تلنلار کيدی شي ډېرواره و کارول شي. که د جګوالي ضريب $a_1$ يو ټول(تام) عدد هم وي، دويم ټکی په دې ډول ټاکل کيدی شي، څکه چې هر عدد کيدی شي په کسر بدل شي.

| | |
|---|---|
|  | بيلګه:<br><br>ټکی P(-3,2) په کرښه پروت دی، چې جګوالی يې a1=-1 دی.<br><br>$a_1 = -1 = -\frac{1}{1}$<br>که څلور پله مخ ته لاړ شو، نو دواړه ټکي يو له بل پوره لرې پراته دي چې يوه سوچه کرښه رسم کړای شو.<br><br>له P څخه هر ځل څلور پله يا قدمونه ښي لورته ځو او يو پل کښته لورته او ټکي $P_1$ لاس ته راوړو. څلور پله ښي لور او څلور پله کښته لور ته مو همغې برابرې نتيجې ته بيايي. |
| | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بیلګه:

$$y = f(x) = 2x+3$$

$$a_1 = 2 = \frac{2}{1} \qquad a_0 = 3$$

ګراف د y محور په $P_y(0|3)$ کې غوڅوي. دا ټکی په پروتولاړ – یا کواودینات سیستم کاږو. له $P_y$ یو یوون (واحد) ښي لور ته ځو او دوه یوونه پورته لور ته. موږ ټکی P(1;5) لاس ته راوړو. اوس $P_y$ او P سره تړو او کرښه دواړولورو ته غزوو.




## 2.1.5.تمرینونه :

د محورونو د تقاطع ټکي وشمیرئ او کرښې رسم کړئ.

د لاندې کرښو ګرافونه د امکان تر حده بې له جدول څخه رسم کړئ.

د دې لپاره د y محور او د جګوالي مثلث څخه کار واخلئ. او x محورسره د تقاطع ټکی وشمیرئ او د ګرافونو له مخې یې و ازمایئ.

اول – $f(x) = 2x - 5$ دویم - $f(x) = -x + 3$ دریم - $f(x) = \frac{1}{2}x + 1$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

څلورم - $f(x) = -\frac{1}{2}x - 2$ پنځم - $f(x) = \frac{1}{3}x - \frac{1}{2}$ شپږم - $f(x) = -\frac{1}{4}x + \frac{3}{2}$

اوم - ا $f(x) = \frac{2}{3}x + 2$ تم - $f(x) = -\frac{3}{4}x - 1$

نهم - $f(x) = -3x + \frac{5}{10}$ لسم - $f(x) = \frac{5}{7}x - \frac{12}{4}$

## 2.1.6.کليمې او د انځورولو ډولونه يې

د f(x)تابع گراف ليدشکل $K_f$ هم بلل کيږي.

په ولاړکونجيز - يا قايم االزاويه کواوردينات کې هر ټکی P يو x او y کواوردينات P ( x | y ) لري.

د x کواوردينات د f(x) تابع مستقله يا خپلواکه متحوله ده.

د y کواوردينات دf(x) تابع ارزښت په گوته کوي. له دې امله زيات وخت د دې لپاره ليکدود y = f(x) استعمالول کيږي.

د کرښيزو توابعو لپاره په ځانگړي ډول لاندې ليکدود عادي دی:

y = f(x) = mx + b د کرښې مساوات بلل کيږي او فقط د $f(x) = a_1x + a_0$ لپاره بل ليکندود دی، کوم سره چې $m = a_1 \wedge b = a_0$ باور لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

## يو کرښيز مساوات په مختلفو اشکالو رامنځ ته کيدی شي:

د کرښيز مساوات عمومي بڼه:

$Ax + By + C = 0$

بيلګه: $3x + 2y + 4 = 0$

د کرښيز مساوات د محور برخو په بڼه

$$\frac{x}{a} + \frac{y}{b} = 1$$

بيلګه:

$$\frac{x}{3} + \frac{y}{2} = 1$$

د نورو شميرنو لپاره هدفمند دی، چي دا مساوات په لاندې معلومه یا پیژندل شوې بڼه راوړو:

$y = f(x) = mx + b$ یا $y = f(x) = a_1x + a_0$

تمرينونه۳:

د$K_f$ $f$ کرښيزي تابع ليدعکس دی د $f(x) = 1,5x - 2;\ x \in \mathbb{R}$. سره .

د یوې $f$ تابع د کرښيز ليدخيره $K_f$ د تابع ګراف هم بللکيږي.

الف – ایا تکی $P(2,5 \mid 1,75)$ د $K_f$ په کرښه پروت دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ب - ټکي $A(x_A|4)$ او $B(-2|y_B)$ په $K_f$ پراته دي. $x_A$ او $x_B$ وټاکئ.

پ – د f(x) صفرځای وشميرئ.

ت – د کوم x -ارزښت لپاره f(x) > 0 باور لري؟

ټ – د f(x) ارزښتورشو يا ساحه وټاکئ، که $D = R_+^x$ و ټاکل شي.

ث – ګراف g د$K_f$ راکښني له لارې ، چې د y په لور منځ ته راځي او له ټکي N( 4 | 0 ). تيرېږي.

بيلګه:

د ،، پومس (سره شوي الوګان)،، ګرندی رستورانت د پومس لپاره هره ورځ 19 kg تازه غوړي په کار لري. تر اوسه په زخيره ځای کې 250 kg شتون لري.

الف – د تابع مساوات وکاږئ او په يوه مناسب کواوردیناتسيست (پروتولاړ سيستم) کي يې ګراف رسم کړئ.

ب – په زخيره ځای کې د95 kg پاتې غوړيو وروسته بايد د رستورانت مشر د نورو پوښتنه وکړي(فرمايش ورکړي). له څو ورځو ورسته بايد دا فرمايش صورت ونيسي؟

پ – دا غوړي څومره دوام لرودی شي، که سملاسي پسې را ونه غوښتل شي؟
الف ته حل -

خپلواک اووښتوني يا متحوله x د وخت لپاره ده چې په ورځو يې ښايو.

بلواکه متحوله يا تابع متحوله f(x) د پاتې سټ(ډېرئ) په کيلوګرام غوړيو لپاره ده.

پيل ارزښت 250 kg دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د تغيرکچه منفي(کميزه) ده او 19kg/Tag يا ورځ / ۱۹ کيلوګرام ده.

دا چې کرښيزې اړيکې شتون لري، نو باور لري:

$$f(x) = a_1x + a_0$$

د $a_1 = -19$ او $a_0 = 250$ سره کيږي

$$f(x) = -19x + 250$$

ولاړ: ډېرئ يا ست په کيلوګرام




وخت په ورځو

ب ته حل – د 95 kg فرمايش ورکولو سره لاندې باور لري:

$$f(x) = 95 \Leftrightarrow -19x + 250 = 95 \mid \cdot(-1)$$

$$\Leftrightarrow 19x - 250 = -95 \mid +250$$

$$\Leftrightarrow 19x = 155 \mid : 19$$

$$\Leftrightarrow x = \frac{155}{19} \approx 8{,}156$$

فرمايش بايد د 8 ورځو په شاوخوا کې صورت ونيسي.

پ ته حل – د y -محور سره د ګراف د تقاطع يا غوښتکی دې وټاکل شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\begin{aligned} f(x) = 0 \quad &\Leftrightarrow -19x + 250 = 0 \mid \cdot(-1) \\ &\Leftrightarrow 19x - 250 = 0 \mid +250 \\ &\Leftrightarrow 19x = 250 \mid : 19 \\ &\Leftrightarrow x = \frac{250}{19} \approx 13{,}158 \end{aligned}$$

غوړي لا نږدې تر 13 ورځو رسيږي.

## 2.1.7.د تمرينونو حل :

تمرين ۱ : تمرين ۱ : د D ټول عددي (تام عددي) ارزښت لپاره ارزښتجدول وليکئ او د ګراف رسم يې وکاږئ.

$f(x) = \frac{3}{4}x - 3$ تعريف سټ $D = \{x \mid -1 \leq x \leq 5\}_{\mathbb{R}}$ ،

د تعريفست D لپاره د ارزښت سټ W وټاکئ.

ګراف په کومو ټکو کې د وضعيه قيمت سيستم محورونه قطع کوي؟

حل :

$$f(x) = \frac{3}{4}x - 3 \qquad D = \{x \mid -1 \leq x \leq 5\}_{\mathbb{R}}$$

$$f(-1) = \frac{3}{4}\cdot(-1) - 3 = -\frac{3}{4} - 3 = -\frac{3}{4} - \frac{12}{4} = -3{,}75$$

$$f(0) = \frac{3}{4}\cdot 0 - 3 = -3$$

$$f(1) = \frac{3}{4}\cdot 1 - 3 = \frac{3}{4} - 3 = \frac{3}{4} - \frac{12}{4} = -\frac{9}{4} = -2{,}25$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(2)=\frac{3}{4}\cdot 2-3=\frac{3}{2}-3=\frac{3}{2}-\frac{6}{2}=-\frac{3}{2}=-1,5$$
$$f(3)=\frac{3}{4}\cdot 3-3=\frac{9}{4}-3=\frac{9}{4}-\frac{12}{4}=-\frac{3}{4}=-0,75$$
$$f(4)=\frac{3}{4}\cdot 4-3=3-3=0$$
$$f(5)=\frac{3}{4}\cdot 5-3=\frac{15}{4}-3=\frac{15}{4}-\frac{12}{4}=\frac{3}{4}=0,75$$

جدول او ګراف:

| x | −1 | 0 | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| f(x) | −3,75 | −3 | −2,75 | −1,5 | −0,75 | 0 | 0,75 |




$W=\{y\,|\,-3,75\le y\le 0,75\}_{\mathbb{R}}$

$P_x(4|0)$ او $P_y(0|-3)$

## تمرین ۲ -

د محورونو سره د تقاطع ټکي وشمیرۍ او د $f(x)=-\frac{2}{3}x+\frac{3}{4}$ لپاره ګراف و کاږۍ.

او په f(x) کي د ایښوولو سره صفرځایونه و ازمایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

حل :

$$f(x) = -\frac{2}{3}x + \frac{3}{4}$$

د y- محور سره د تقاطع يا غوڅټکی:

$$f(0) = \frac{3}{4} \Rightarrow P_y\left(0 \,\middle|\, \frac{3}{4}\right)$$

د x– محور سره غوڅټکی:

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{2}{3}x + \frac{3}{4} \,\Big|\, -\frac{3}{4}$$

$$\Leftrightarrow -\frac{2}{3}x = -\frac{3}{4} \,\Big|\, \cdot\left(-\frac{3}{2}\right)$$

$$\Leftrightarrow x = \frac{9}{8} \Rightarrow P_x\left(\frac{9}{8} \,\middle|\, 0\right)$$




ازمايينت

$$f\left(\frac{9}{8}\right) = -\frac{2}{3}\cdot\frac{9}{8} + \frac{3}{4} = -\frac{18}{24} + \frac{3}{4} = -\frac{3}{4} + \frac{3}{4} = 0$$

تمرين ۳ : حل.

تمرينونه۳:

$K_f$ د f کرښيزې تابع ليدعکس دی د $f(x) = 1,5x - 2;\ x \in \mathbb{R}$. سره .

د يوې f تابع د کرښيز ليدڅېره $K_f$ د تابع ګراف هم بللکيږي.

الف – ايا تکی $P(2,5\,|\,1,75)$؛ د $K_f$ په کرښه پروت دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ب - ټکي $A(x_A|4)$ او $B(-2|y_B)$ په $K_f$ پراته دي. $x_A$ او $x_B$ وټاکئ.

پ – د $f(x)$ صفرځای وشمېرئ.

ت – د کوم $x$ -ارزښت لپاره $f(x) > 0$ باور لري؟

ټ – د $f(x)$ ارزښتورشو یا ساحه وټاکئ، که $D = R_+^x$ و ټاکل شي.

ث – ګراف $g$ د$K_f$ راکښني له لارې ، چې د $y$ - په لور منځ ته راځي او له ټکي N( 4 | 0 ).

تیرېږي.

و الف ته حل- f(x) = 1,5x-2

ازماېښت:

P(2,5;1,75):f(2,5)=1,5.2,5 – 2 = 1,75 =>

P په کرښه $K_f$ پروت دی یا $P \in K_f$ .

و ب ته حل -

$A(x_A|4):\quad f(x_A) = 1{,}5 \cdot x_A - 2 = 4$

$\Rightarrow \quad 1{,}5 \cdot x_A - 2 = 4 \,|+2$

$\Leftrightarrow \quad 1{,}5 \cdot x_A = 6 \,|:1{,}5$

$\Leftrightarrow \quad x_A = 4$

$B(-2|y_B):\quad f(-2) = 1{,}5 \cdot (-2) - 2 = y_B$

$\Rightarrow y_B = 1{,}5 \cdot (-2) - 2 = -5$

و پ ته حل –

صفرځایونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$f(x)=0 \Leftrightarrow 1{,}5x-2=0 \Leftrightarrow 1{,}5x-2=0\,|+2$$
$$\Leftrightarrow \frac{3}{2}x=2\,|\cdot 2 \Leftrightarrow 3x=4\,|:3 \Leftrightarrow x=\frac{4}{3} \Rightarrow P_x\left(\frac{4}{3}\,\middle|\,0\right)$$

و ت ته حل –

$$f(x)=1{,}5x-2>0 \Leftrightarrow \frac{3}{2}x-2>0\,|+2 \Leftrightarrow \frac{3}{2}x>2\,|\cdot\frac{2}{3}$$
$$\Leftrightarrow x>\frac{4}{3} \Rightarrow \text{Für } x>\frac{4}{3} \text{ ist } f(x)>0$$

و ټ حل –

$f(x)=1{,}5x-2 \quad D_f=\mathbb{R}^*_+$ ( $\mathbb{R}^*_+$ په دې معنا چې $0<x$ ) ( $x>0$ )

$$\Rightarrow f(x)>-2 \quad \Rightarrow \quad W_f=\{y\,|\,y=f(x)>-2\}$$

و ث ته حل- د y په لور راکښنه له ټکي N(4;0) څخه غبرگې (موازي) کرښې g(x) =(3/2)x +a0 لاس ته راځي.

د لاندې سره ازماېښت:

$$N(4\,|\,0):\Rightarrow g(4)=0 \Leftrightarrow \frac{3}{2}\cdot 4+a_0=0 \Leftrightarrow 6+a_0=0\,|-6 \Leftrightarrow a_0=-6$$

g(x) =(3/2)x -6 و g(x) =(3/2)x -2 ته چې له ټکي N(4;0) تيرېږي، غبرگه ځغلي.

## حلونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

کرښیز توابعو تمرینونه I

نتیجې او مفصل حلونه

نتیجې :

| | |
|---|---|
| لومړی- د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګورئ | $P_y(0 \mid -5);\ a_1 = \frac{2}{1};\ P_x\left(\frac{5}{2} \,\middle|\, 0\right)$ |
| دویم- د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګورئ | $P_y(0 \mid 3);\ a_1 = -\frac{1}{1};\ P_x(3 \mid 0)$ |
| درېم- د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګورئ | $P_y(0 \mid 1);\ a_1 = \frac{1}{2};\ P_x(-1 \mid 0)$ |
| څلورم - د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګورئ | $P_y(0 \mid -2);\ a_1 = -\frac{1}{2};\ P_x(-4 \mid 0)$ |
| پنځم - د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګورئ | $P_y\left(0 \,\middle|\, -\frac{1}{2}\right);\ a_1 = \frac{1}{3};\ P_x\left(\frac{3}{2} \,\middle|\, 0\right)$ |
| شپږم - د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګورئ | $P_y\left(0 \,\middle|\, \frac{3}{2}\right);\ a_1 = -\frac{1}{4};\ P_x(6 \mid 0)$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

| | |
|---|---|
| اوم - د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګورى | $P_y(0\mid 1);\ a_1=\frac{2}{3};\ P_x(-3\mid 0)$ |
| اتم - د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګورى | $P_y(0\mid -1);\ a_1=-\frac{3}{4};\ P_x\left(-\frac{4}{3}\,\middle|\,0\right)$ |
| نهم - د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګورى | $P_y\left(0\,\middle|\,\frac{1}{2}\right);\ a_1=-\frac{3}{1};\ P_x\left(\frac{1}{6}=0,1\bar{6}\,\middle|\,0\right)$ |
| لسم - د تابع ګراف لپاره مفصل حل وګورى | $P_y(0\mid -3);\ a_1=\frac{5}{7};\ P_x\left(\frac{21}{5}=4,2\,\middle|\,0\right)$ |

## مفصل حلونه:

لومړى

| | |
|---|---|
| د تابع مساوات<br>$f(x)=2x-5 \Rightarrow P_y(0\mid -5)$<br>جګوالى $a_1=2=\frac{2}{1}$<br>د x محور سره د تقاطع ټکى<br>$f(x)=0 \Leftrightarrow 2x-5=0$<br>$\Leftrightarrow x=\frac{5}{2} \Rightarrow P_x\left(\frac{5}{2}\,\middle|\,0\right)$ |  |

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

دويم:

د تابع مساوات

$$f(x) = -x + 3 \Rightarrow P_y(0 \mid 3)$$

جګوالی: $a_1 = -1 = -\frac{1}{1}$

د x محور سره د تقاطع ټکی

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow -x + 3 = 0$$

$$\Leftrightarrow x = 3 \Rightarrow P_x(3 \mid 0)$$




دريم-

د تابع مساوات

$$f(x) = \frac{1}{2}x + 1 \Rightarrow P_y(0 \mid 1)$$

جګوالی : $a_1 = \frac{1}{2}$

د x محور سره د تقاطع ټکی

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow \frac{1}{2}x + 1 = 0$$

$$\Leftrightarrow x = -2 \Rightarrow P_x(-2 \mid 0)$$



(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ځلورم: د تابع مساوات

$$f(x) = -\frac{1}{2}x - 2 \Rightarrow P_y(0 \mid -2)$$

جګوالی: $a_1 = -\frac{1}{2}$

د x محور سره د تقاطع ټکی

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{1}{2}x - 2 = 0$$

$$\Leftrightarrow x = -4 \Rightarrow P_x(-4 \mid 0)$$




پنځم -

د تابع مساوات

$$f(x) = \frac{1}{3}x - \frac{1}{2} \Rightarrow P_y\left(0 \middle| -\frac{1}{2}\right)$$

جګوالی $a_1 = \frac{1}{3}$

د x محور سره د تقاطع ټکی

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow \frac{1}{3}x - \frac{1}{2} = 0 \mid + \frac{1}{2}$$

$$\Leftrightarrow \frac{1}{3}x = \frac{1}{2} \mid \cdot 3$$

$$\Leftrightarrow x = \frac{3}{2} \Rightarrow P_x\left(\frac{3}{2} \middle| 0\right)$$




شپږم -

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د تابع مساوات

$$f(x) = -\frac{1}{4}x + \frac{3}{2} \Rightarrow P_y\left(0 \,\middle|\, \frac{3}{2}\right)$$

جګوالی $a_1 = -\frac{1}{4}$

د x محور سره د غوځي يا تقاطع ټکی

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{1}{4}x + \frac{3}{2} = 0 \,|-\frac{3}{2}$$

$$\Leftrightarrow -\frac{1}{4}x = -\frac{3}{2} \,|\cdot(-4)$$

$$\Leftrightarrow x = 6 \Rightarrow \underline{\underline{P_x(6 \mid 0)}}$$




اوم -

د تابع مساوات

$$f(x) = \frac{2}{3}x + 2 \Rightarrow P_y(0 \mid 2)$$

جګوالی $a_1 = \frac{2}{3}$

د x محور سره د تقاطع ټکی

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow \frac{2}{3}x + 2 = 0 \,|-2$$

$$\Leftrightarrow \frac{2}{3}x = -2 \,|:\frac{2}{3}$$

$$\Leftrightarrow x = -3 \Rightarrow \underline{\underline{P_x(-3 \mid 0)}}$$



(c) ketabton.com: The Digital Library



---

اتم – د تابع مساوات

$$f(x) = -\frac{3}{4}x - 1 \Rightarrow P_y(0 \mid -1)$$

جګوالی $a_1 = -\frac{3}{4}$

د x محور سره د تقاطع ټکی

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow -\frac{3}{4}x - 1 = 0 \mid +1$$

$$\Leftrightarrow -\frac{3}{4}x = 1 \mid : \left(-\frac{3}{4}\right)$$

$$\Leftrightarrow x = -\frac{4}{3} \Rightarrow P_x\left(-\frac{4}{2} \mid 0\right)$$




نهم -

د تابع مساوات

$$f(x) = -3x + \frac{5}{10} \Rightarrow P_y\left(0 \mid \frac{1}{2}\right)$$

جګوالی $a_1 = -3 = -\frac{3}{1}$

د x محور سره د تقاطع ټکی

$$f(x) = 0 \Leftrightarrow -3x + \frac{1}{2} = 0 \mid -\frac{1}{2}$$

$$\Leftrightarrow -3x = -\frac{1}{2} \mid : (-3)$$

$$\Leftrightarrow x = \frac{1}{6} \Rightarrow P_x\left(\frac{1}{6} = 0,1\overline{6} \mid 0\right)$$



(c) ketabton.com: The Digital Library



---

لسم -




د تابع مساوات

$$f(x)=\frac{5}{7}x-\frac{12}{4}\Rightarrow P_y(0|-3)(0\,|-3)$$

جګوالی $:\ a_1=\frac{5}{7}$

د x محور سره د تقاطع ټکی

$$f(x)=0\Leftrightarrow\frac{5}{7}x-3=0|+3$$

$$\Leftrightarrow\frac{5}{7}x=3|:\frac{5}{7}$$

$$\Leftrightarrow x=\frac{21}{5}\Rightarrow P_x\left(\frac{21}{5}=4,2\,\middle|\,0\right)$$

## 2.1.پوښتنې

کربنيز مساواتI .

لومړی - د لاندې توابعو ګرافونه هر يو په يوه کواورډينات سيستم کې وکاږئ

الف - $f(x)=-\frac{2}{3}x+2$ ب = $f(x)=2x-4$ پ = $f(x)=-\frac{5}{4}x+1$

ت = $f(x)=-4x+5$ ټ = $f(x)=-0,3x$ ث - $f(x)=2,5$

دويم - و ازمايئ، چې کرښه په $P_1$ او $P_2$ کې سرچينه پيژه کرښه ده.

الف - $P_1(2|4);P_2(-1,5|-3)$ ب = $P_1(-1|3,5);P_2(2|-2)$

دريم - د کوم x ارزښت لپاره $f(x)>0$ باور لري.؟

الف - $f(x)=0,4x+1$ ب = $f(x)=-1,5(x-2)$ پ = $f(x)=\frac{x}{5}-\frac{7}{5}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

څلورم - د کرښيزې تابع ارزښت جدول معلوم دی. د تابع ترم او د محورونو د تقاطع ټکي معلوم کړی.

الف -

| x | 0 | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| y | −2 | −1,5 | −1 | −0,5 | 0 | 0,5 |

ب =

| x | −1 | 0 | 1 | 2 |
|---|---|---|---|---|
| y | −3 | −1 | 1 | 3 |

پنځم - کرښيز ه $f(x) = 3 - \frac{12}{7}x$ تابع ورکړ شوې

الف - ګراف رسم کړی او( f ( -1 په ګوته کړی

ب = ايا $P(\sqrt{7} \mid -1{,}54)$ يا ټکی د f(x) په ګراف پروت دی؟

پ = تعريع ساحه D دې داسې محدوده شي، چې باور ولري :

$W_f = \{y \mid 1 \le y < \infty\}$ او $D_f$ وټاکی.

ت = د k د کوم ارزښا لپاره $f(\sqrt{2k}) < 0{,}6$? دی؟

شپږم - د $g(x) = 0{,}75x + 3$ او د $h(x) = -x - 2{,}5$ توابع ورکړ شوي.
کرښه h دې د y په لور داسې راکښل شي( يا دې داسې تغير ورکړ شي)، چې g او تغير خوړلي کرښه h د x محور په همغه ټکي کې قطع ( غوڅ) کړي.

د تغير خوړلي کرښي لپاره د f(x) تابع ترم وټاکی يا پيدا کړی.
اوم - کيدی شي لاندې ګرافونه همغه کرښه انځور کړي؟ دلايل يې راوړی






(c) ketabton.com: The Digital Library



## څوابونه کربنیز مساوات لومړی برخه.

مفصل حلونه

لومړی –

| | |
|---|---|
| الف- $f(x) = -\frac{2}{3}x + 2$  | ب- $f(x) = 2x - 4$  |
| پ- $f(x) = -\frac{5}{4}x + 1$  | ت- $f(x) = -4x + 5$  |
| ټ- $f(x) = -0,3x$ | ث- $f(x) = 2,5$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library









دويم –

الف –

$$f(x)=a_1x+a_0 \quad P_1(2|4);P_2(-2{,}5|-3)$$

جګوالی

$$:a_1=\frac{y_2-y_1}{x_2-x_1}=\frac{-3-4}{-1{,}5-2}=\frac{-7}{-3{,}5}=2\Rightarrow f(x)=2x+a_0$$

$$P_1(2|4):\quad f(2)=2\cdot 2+a_0=4\Rightarrow a_0=0\Rightarrow \underline{\underline{f(x)=2x}}$$

سرچينه ييزه كربنه

ب-جګوالی

$$P_2(2|-2):\quad f(2)=-\frac{11}{6}\cdot 2+a_0=-2\Rightarrow a_0=\frac{5}{3}\Rightarrow f(x)=-\frac{11}{6}x+\frac{5}{3}$$

بي سرچينييزه كربنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم:

الف –

$$f(x) = 0{,}4x + 1 > 0 \Rightarrow 0{,}4x + 1 > 0 \Rightarrow x > -2{,}5$$
$$f(x) = 0{,}4x + 1 > 0 \text{ für } \underline{\underline{x > -2{,}5}}$$

ب =

$$f(x) = -1{,}5(x-2) = -1{,}5x + 3 > 0$$
$$\Rightarrow -1{,}5x + 3 > 0 \mid -3 \quad \Leftrightarrow \quad -1{,}5x > -3 \mid : (-1{,}5) \quad \Leftrightarrow \quad x < \frac{-3}{-1{,}5} = 2$$
$$f(x) = -1{,}5(x-2) > 0 \text{ für } \underline{\underline{x < 2}}$$

$$f(x) = \frac{x}{5} - \frac{7}{5} > 0$$
$$\Rightarrow \frac{x}{5} - \frac{7}{5} > 0 \mid \cdot 5 \quad \Leftrightarrow \quad x - 7 > 0 \mid +7 \quad \Leftrightarrow \quad x > 7$$
$$f(x) = \frac{x}{5} - \frac{7}{5} > 0 \text{ für } \underline{\underline{x > 7}}$$

څلورم:

الف –

$$\underline{\underline{P_y(0 \mid -2)}} \Rightarrow a_0 = -2 \quad \underline{\underline{P_x(4 \mid 0)}}$$
$$a_1 = \frac{y_2 - y_1}{x_2 - x_1} = \frac{0-(-2)}{4-0} = \frac{2}{4} = \frac{1}{2} \Rightarrow \underline{\underline{f(x) = \frac{1}{2}x - 2}}$$

ب =

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

| x | −1 | 0 | 1 | 2 |
|---|---|---|---|---|
| y | −3 | −1 | 1 | 3 |

$\Rightarrow \underline{\underline{P_y(0\,|\,-1)}} \Rightarrow a_0 = -1 \Rightarrow f(x) = a_1x - 1$

$P(1|\,1):\quad f(1) = a_1 \cdot 1 - 1 = 1 \Rightarrow a_1 = 2 \Rightarrow f(x) = 2x - 1$

$f(x_s) = 0 \Rightarrow 2x_s - 1 = 0 \Rightarrow x_s = 0{,}5 \Rightarrow \underline{\underline{P_x(0{,}5\,|\,0)}}$

پنځم:

الف –

$$f(x) = 3 - \frac{12}{7}x = -\frac{12}{7}x + 3$$

$$f(-1) = -\frac{12}{7}\cdot(-1) + 3 = 4\frac{5}{7} \approx 4{,}71$$

$f(7) = -9 \quad f(0) = 3$




ب = $P\left(\sqrt{7}\,|\,-1{,}54\right) \Rightarrow f\left(\sqrt{7}\right) = -1{,}53557\ldots \approx 1{,}54$

په دوه لسمیزځایونو گردیري، بیا P په کرښه پرته ده.

پ =

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$W_f = \{y \mid 1 \le y < \infty\} \Rightarrow f(x) \ge 1 \Leftrightarrow -\frac{12}{7}x + 3 \ge 1 \mid -3$$
$$\Leftrightarrow -\frac{12}{7}x \ge -2 \mid \cdot \left(-\frac{7}{12}\right) \Leftrightarrow x \le \frac{14}{12} \Leftrightarrow x \le \frac{7}{6}$$

$$\Rightarrow f(x) \ge 1$$

د $x \le \frac{7}{6}$: لپاره.

$$\Rightarrow D_f = \left\{x \mid -\infty < x \le \frac{7}{6}\right\}_{\mathbb{R}}$$

ت =

$$f\left(\sqrt{2k}\right) < 0,6 \Leftrightarrow -\frac{12}{7}\sqrt{2k} + 3 < 0,6 \mid -3 \Leftrightarrow -\frac{12}{7}\sqrt{2k} < -2,4 \mid \cdot 7$$

$\Leftrightarrow -12 \cdot \sqrt{2k} < -16,8 \mid : (-12) \Leftrightarrow \sqrt{2k} > 1,4 \mid$ مربع کوو

$$\Leftrightarrow 2k > 1,96 \Leftrightarrow k > 0,98$$

د $k > 0,98$ ؛ لپاره $: f\left(\sqrt{2k}\right) < 0,6$ باور لري

شپږم:

دx- محور سره د g(x) غوڅټکی

$$P_{xg}(x_s \mid 0): \quad g(x_s) = 0,75x_s + 3 = 0$$
$$\Rightarrow x_s = -4$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



h(x) او f(x) برابر جګوالی لري.

$a_{1h} = a_{1f} = -1$

ږدو: $: f(x) = -x + a_{0f}$

$P_{xg} = P_{xf} \quad P_{xf}(-4\,|\,0):$

$\Rightarrow f(-4) = -(-4) + a_{0f} = 0 \Rightarrow a_{0f} = -4$

$\Rightarrow f(x) = -x - 4$

h(x) د x په محور په 1,5- کښنول شوې.




اوم: مفصل حل

دواړه ګرافونه کړی شي همغه يا برابره کرښه انځور کړي، که کچوونی په محور مختلف وټاکل شي

## پوښتنې

## کرښيز مساوات يا - برابرونونه II

لومړی –

د لاندې برابرون له لارې کرښه g ورکړ شوې

g(x) = 2x + 8,2

(c) ketabton.com: The Digital Library



---




د ځنګ ښيري کرښه وټاکی، چي د$g(x)$ سره غبرګه له ټکي$P(\,2 \mid 2\,)$ تيريږي. د دي کرښي تابع مساوات وټاکی او خپله ټاکنه په دليل ودانه کړی.

دويم –

تکی $P(4,5;\ -3)$ په کرښه چي صفر( سرچينه ييزه کرښه) پروت دی.

تکی $P(3;f(3))$ هم په دي کرښه پروت دی. $f(x)$ وټکی.

دريم –

تکي$A(1;3), B(-1;-7), C\ (\ 2;-2)$ او $D(8;7)$ د مساوات $f(x) = 4x\text{-}3$ سره د کرښي پورته لور ته ، کښته لور ته او که په کرښه پراته دي؟

څلورم –

د کرښي g مساوات وټکی.

الف – $a_1 = -\frac{3}{4}$؛ له $P(1 \mid -2)$          ب - $a_1 = 1{,}5$؛ له $P(-1 \mid -0{,}5)$

پ - له $P_1(2 \mid -4)$ او $P_2(0 \mid -2)$          ت - له سرچيني او $P(-3 \mid -1)$

ټ – له $P(-3 \mid 3)$ او وکرښي $g(x) = -\frac{1}{2}x - 5$ ته غبرګ

پنځم- د يوه کرښيز تابع f لپاره $f(2) = -3$ او $f(0) = 5$ باور لري.

د تابع ترم وټاکی او$f(0{,}25)$ او $f\left(\sqrt{2}\right)$ وشمېری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

شپږم-
له څنګ څيري څخه د تابع
ترم وټاکی. د x مناسب
ارزښتونو له لارې يې
نتيجې و ازمايی.




# حلونه

## کرښيز برابرونونه II

مفصل حلونه

لومړی –

د غوښتونو کرښو جګيدنه : $a_1 = 2 \Rightarrow g_2$ ده.

کرښه دې له ټکي P(2;2) تيره شي.

$$g_2(x) = 2x + a_{0g2} \quad P(2|2): \quad g_2(2) = 2 \cdot 2 + a_{0g2} \Rightarrow a_{0g2} = -2$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{g_2(x) = 2x - 2}}$$

دويم –

پيل کرښه $f(x) = a_1 x$ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$A(4{,}5|-3):\quad f(4{,}5)=a_1\cdot 4{,}5=-3\Leftrightarrow a_1=-\frac{2}{3}$$

$$\Rightarrow \underline{\underline{f(x)=-\frac{2}{3}x}}\quad f(3)=-\frac{2}{3}\cdot 3=\underline{\underline{-2}}$$

دريم –

$$f(x)=4x-3$$

$$A(1|3):\qquad f(1)=4\cdot 1-3=1\Rightarrow A(1|3)$$

د کرښې پورته لور ته پرته ده

$$B(-1|-7):\quad f(-1)=4\cdot(-1)-3=-7\Rightarrow B(-1|-7)$$

په کرښه پورته ده

$$C(2|-2):\quad f(2)=4\cdot 2-3=5\Rightarrow C(2|-2)$$

د کرښې کښته لور ته پرته ده

$$D(8|7):\qquad f(8)=4\cdot 8-3=29\Rightarrow D(8|7)$$

د کرښې کښته لور ته پرته ده

ځلورم :

الف-

$$a_1=-\frac{3}{4}\Rightarrow f(x)=-\frac{3}{4}x+a_0$$

$$P(1|-2):\quad f(1)=-\frac{3}{4}\cdot 1+a_0=-2\Rightarrow a_0=-\frac{5}{4}\Rightarrow \underline{\underline{f(x)=-\frac{3}{4}x-\frac{5}{4}}}$$

ب-

$$a_1=1{,}5=\frac{3}{2}\Rightarrow f(x)=\frac{3}{2}x+a_0$$

$$P(-1|-0{,}5):\quad f(-1)=\frac{3}{2}(-1)+a_0=-\frac{1}{2}\Rightarrow a_0=1\Rightarrow \underline{\underline{f(x)=\frac{3}{2}x+1}}$$

پ –

$$P_2(0|-2)\Rightarrow a_0=-2\quad\Rightarrow f(x)=a_1x-2$$

$$P_1(2|-4):\quad f(2)=a_1\cdot 2-2=-4\Rightarrow a_1=-1\quad\Rightarrow \underline{\underline{f(x)=-x-2}}$$

ت - کرښه أه سرچيني

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\Rightarrow a_0 = 0 \Rightarrow f(x) = a_1 x$$

$$P(-3\,|\,-1): \quad f(-3) = a_1 \cdot (-3) = -1 \Rightarrow a_1 = \frac{1}{3} \quad \Rightarrow f(x) = \frac{1}{3}x$$

ت - و $g(x) = -\frac{1}{2}x - 5 \Rightarrow a_1 = -\frac{1}{2} \Rightarrow f(x) = -\frac{1}{2}x + a_0$ ته غبرګه

$$P(-3\,|\,3): \quad f(-3) = -\frac{1}{2}\cdot(-3) + a_0 = 3 \Rightarrow a_0 = \frac{3}{2} \quad \Rightarrow \underline{\underline{f(x) = -\frac{1}{2}x + \frac{3}{2}}}$$

پنځم –

$$f(x) = a_1 x + a_0 \quad f(2) = -3 \quad f(0) = 5$$
$$f(0) = a_1 \cdot 0 + a_0 = 5 \Rightarrow a_0 = 5 \Rightarrow f(x) = a_1 x + 5$$
$$f(2) = a_1 \cdot 2 + 5 = -3 \Rightarrow a_1 = -4 \Rightarrow \underline{\underline{f(x) = -4x + 5}}$$
$$f(0,25) = -4 \cdot 0,25 + 5 = -1 + 5 = \underline{\underline{4}}$$
$$f\left(\sqrt{2}\right) = -4 \cdot \sqrt{2} + 5 \approx \underline{\underline{-0,657}}$$

شپږم –

$a_0$ کيدی شي دy محور غوڅتکي ځخه ولوستل شي يا لاس ته راشي.

$a_1$ ، $\frac{\Delta y}{\Delta x}$ ، جګيدنه ده ، دا هم لوستل کيدی شي.

$$f(x) = 2x - 1;\ g(x) = x + 1;\ h(x) = 0,5x - 3\ ;\ i(x) = -4x - 2$$

## پوښتنې

کسرونه، ترمونه او کرښيز مساوات د تولګي کار چمتووني لپاره

لومړی: وشميرئ:

الف - $\frac{1}{2} - \frac{1}{4} + \frac{1}{8} - \frac{1}{10}$ ب - $\frac{7}{8} - \frac{2}{7} - \frac{1}{4}$

دويم: وشميرئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

الف - $1\frac{2}{3}\cdot\left(-2\frac{3}{2}\right)$ ب - $4\frac{5}{6}:1\frac{2}{9}$

دريم: نوکان حل يا لرې کړئ او ساده يې کړئ

الف - $3u+\left[4-(2u-1)+8u\right]+7$ ب - $6x-\left[9y-(2x+4z)-(2x+3y-8z)\right]$

څلورم:: سره ضرب يې کړئ او سره يوځای يې کړئ

الف - $\frac{1}{2}(2x-4)-5(2x+8)+\frac{1}{4}(12x-4)$ ب - $(4,2u-2,4v)(5u-10v)$

پنځم: په نوکانو کې يې ګير کړئ.

الف - $-5xu+15xv-10xz$ ب - $\frac{1}{2}xu-\frac{1}{8}xv+\frac{3}{4}xz$

شپږم: د بينوم فرمول په مرسته يې وشمېرئ

الف - $\left(\frac{1}{3}a+b\right)^2$ ب - $\left(\frac{6}{7}m-\frac{1}{8}n\right)^2$

پ - $\left(m+\frac{3}{4}n\right)^2$ ت - $\left(\frac{3}{4}a-2\right)^2$

اوم: لاندې ترمړنه د ضرب په حيث انځور کړئ.

بيلګه: $4a^2+4ab+b^2=(2a)^2+2\cdot 2ab+b^2=(2a+b)^2$

الف - $u^2+2uw+w^2$ ب - $4x^2+12xy+9y^2$

پ - $9-48n+64n^2$ ت - $m^2+2m+1$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

اتم: د لادې توابعو ګراف په يوه مناسب پروتولاړ-يا کواوردیناتسیستم کې وکاږئ

الف - $f(x)=-\frac{5}{4}x+1$ ب - $f(x)=-4x+5$

نهم: يو کرښيز تابع f(x) د $x\in\mathbb{R}$ ؛ f(x)=1,25x+1,5 سره ورکړ شوی

الف -تابع ارزښتونه وشميرئ:

$f(0)$; $f(-1,5)$; $f(0,7)$; $f(\pi)$; $f\left(\frac{\pi}{2}\right)$; $f(u)$ :

ب – تابع په کوم ځای کې ارزښت 5- لري؟

پ – د کوم ارګومنت يا پروتارزښت سره تابع ارزښت مثبت دی؟

ت – و ښايئ، چې f(u+2)-f(u) له uخپلواک دی.

لسم: د لاندې کرښيزو توابعو محورغوڅتکي وټاکی او ګراف يې په يوه پروتولاړسيتم کې وکاږی.

الف - $f(x)=-4x-3,5$ ب - $f(x)=-\frac{8}{3}x+\frac{5}{4}$

يولسم: کرښيز مساوات $f(x)=-\frac{12}{7}x+3$ ورکړ شوی دی.

الف - ګراف يې وکاږئ او $f(-1)$ په نخښنه کړئ.

ب – ايا ټکی $P(\sqrt{7}\mid-1,54)$ د $f(x)$ په ګراف پروت دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

پ – د t د کوم ارزښت لپاره $f\left(\sqrt{2t}\right) < 0,6$ ? دی ؟

دولسم: د f(x) کرښو مساوات وټاکی.

الف - $a_1 = -\frac{3}{4}$ د ټکي $P(1|-2)$ له لارې ب- $a_1 = 1,5$ د ټکي $P(-1|-0,5)$ له لارې

پ - د ټکي $P_1(2|-4)$ او $P_2(0|-2)$ له لارې ت - د سرچینې $P(-3|-1)$ له لارې.

دیارلسم: د کرښيز تابع f لپاره باور لري: f(2)=-3 او f(0)=5 .

د تابع ترم و ټاکئ او وشميرئ f(0,25) او $f\left(\sqrt{2}\right)$ .

څوارلسم: د f(x) کرښو مساوات وټاکی.

الف - $P_1(-4|2)$ او $P_2(2|0)$ په کرښه پراته دي

ب - $P_1(1|-2)$ او $P_2(-2|10)$ په کرښه پراه دي.

پ - کرښه محور په x=2 او y=6 کي غوڅوي.

ت – کرښه له ټکو $P_1(-3|1)$ او $P_2\left(1|\frac{11}{3}\right)$ څخه تيريږي.

ټ - کرښه $a_1 = -4,5$ جګوالی لري او له ټکي $P(2|-3)$ تيريږي.

ث- کرښه جګوالی $a_1 = 3$ لري او له ټکي $P(1|1,5)$ تيريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځلسم: د کرښیز تابع(f(x تابعترم او صفرځای وټاکئ، که دا لاندې معلوم وي.:

$f(1) = -4$ او $f(-4) = 2$

شپاړس: د کرښیز تابع(f(x تابع ترم پیداکړئ، که باور ولري:

الف - $f(1) = 7 ; f(-1) = 3$ ب - $f(a) = 0 ; f(0) = a$ پ - $f(a) = 1 ; f(2a) = -1$

اوه لسم: د میرویس میدان وړوکتون ښوونکې او ښوونکي یا روزونکي د زړه له کومې ،،بریکمن ۱ ،، مارکي چای چښي. اوسنۍ زخیره 1,8 kg چای دی. په ا ونۍ کې 350 g د چې چاینکې لپاره بسیا کوي.

الف - د تابع مساوات ولیکئ، کوم چې دا کړنه تشریح کوي.

ب – له کوم وخته د کافي زخیره تمامیږي.

پ – د کافي پسې فرمایش باید ورکړ شي، که د زخیرې کوټۍ پاتې فقط 400 g ولري. دا حالت به کله وي؟

ت – د تابع ګراف په یوه مناسب پروتولاړ سیستم وکاږئ.

اتلسم: پښتون او هیواد په یوه د بیارغونې کلینیک کې د روغپال په حیث کار کوي او برابر بنستمعاش لري. په دې وخت باید دواړه زیات کار وکړي. د میاشتې په اخر کې دواړه معاشونه سره پرتله کوي. د\بشتون بې مالليا معاش € 3559 دی او د هیواد € 3223 دی. پښتون په همدې میاشت کې 43 زیات ساعته کار کړی دی، هیواد برعکس فقط 27ساعته زیات کار کړی دی.

بنستمعاش وشمیرئ او د زیات کار ټولې پیسې.

نولسم: د 80 kg ګنې ځخه کیدی شي 8,5 kg ګوړه جوړه شي.( د ګني او ګوړې ترمنځ یوه کرښیزه اړیکه نیول (فرض)کیږي). یو فنکشن ترم (f (x ښایې، چې له x کیلوګرام ګنې ځخه ځومره ګوړه لاس ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

الف - فنکشاترم f (x) وټاکئ.

ب – وشميرئ: $f(100); f(250); f(x) = 25$

پ – د تابع f (x) ګراف وکاږي.

شلم: په يوه ملي اقتصادي مودل کي لګښت ورکړه کرښيز د لاس کي لرلي لاس ته راوړني په واک کي دی.

د يوه € 1000 لاس ته راوړني سره لګښت ورګړه € 900 دی. د يوه € 1800 لاس ته راوړني سره لګښت € 1460 دی.

الف - د لګښت (خوراک) تابعK لپاره يو تابع ترم پيدا کړئ.

ب – دلګښت ورکړې جګوالی شميرئ که لاس ته راوړنه € 2500 ,€ 800 همداسې € 4000وي.

پ – د لګښت کچه د معاش هغه برخه ده، چي د لګښت لپاره کارول کيږي يا لګيږي.

معاش: لګښت= د لګښت کچه (Konsumquote = Konsum / Einkommen)

د لګښتکچې او معاش ترمنځ کومې اړيکې شتون لري؟

ت – د معاش زياتوالی dx دی. د معاش څو په سلو کي د لګښت لپاره لګيږي؟

ټ – د زخيرې زورS د معاش په واکوالي کي کوم تابع يا فنکشن تشريح کوي؟ تابع K او S ګرافيکي انځور کړئ . د S صفرځای کوم غوره والی لري؟

يوويشتم: فيرما،، بيګ بيوټي(Big Beauty )،، د شونډو قلم ،، امور(Amore )،،

توليدوي.

دا په توليد کي منځ ته راغلی لګښتK د توليد شوو دانو يا ټوټو په واک کي دی. د x = 100 د انو توليد سره € 385 لګښت منځ ته راځي د 200 = xدانو وتوليد سره € 410

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

لګښت منځ ته راځي. د تولید شوو دانو ګڼون یا تعداد او لګښت ترمنځ یوه کربنیزه اړیکه شتون لري.

الف - د لګښت تابع وټاکئ.

ب – د x = 140 تولید سره د دانئ قیمت څومره لوي دی؟

پ – د څګ دانو تعداد تولید سره د داني قیمت کوم ارزښت ته هڅیږي یا نږدې کیږي؟

ت – د کوم مقدارx سره د ګټې راټلنه لرو، که د یوې داني شوندو قلم € 5,20 قیمت لاس ته راوړی شو؟

ټ – په یوه پروتولاړ سیستم کواوردینات سیسیتم کې د K(x) او E(x) ګراف وکاږئ.

## ځوابونه

کسرونه، ترمونه او کرښيز توابع د ټولګي کار چمتووالي لپاره.

نتیجط او مفصل ځوابونه:

نتیجې:

لومړی:

الف - $\frac{1}{2}-\frac{1}{4}+\frac{1}{8}-\frac{1}{10}=\frac{11}{40}$ ب - $\frac{7}{8}-\frac{2}{7}-\frac{1}{4}=\frac{19}{56}$

دویم:

الف - $1\frac{2}{3}\cdot\left(-2\frac{3}{2}\right)=-5\frac{5}{6}$ ب - $4\frac{5}{6}:1\frac{2}{9}=3\frac{21}{22}$

دریم:

الف - $3(3u+4)$ ب - $2(5x-3y-2z)$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ځلورم:

الف ـ $-6x-43$ ب ـ $21u^2-54uv+24v^2$

پنځم: الف ـ $-5x(u-3v+2z)$ ب ـ $\frac{1}{2}x\left(u-\frac{1}{4}v+\frac{3}{2}z\right)$

شپږم:

الف ـ $\frac{1}{9}a^2+\frac{2}{3}ab+b^2$ ب ـ $\frac{36}{49}m^2-\frac{3}{14}mn+\frac{1}{64}n^2$

پ ـ $m^2+1\frac{1}{2}mn+\frac{9}{16}n^2$ ت ـ $\frac{9}{16}a^2-3a+4$

اوم:

الف ـ $(u+w)^2$ ب ـ $(2x+3y)^2$

پ ـ $(3-8n)^2$ ت ـ $(m+1)^2$

اتم:

الف ـ $f(x)=-\frac{5}{4}x+1$ ب ـ $f(x)=-4x+5$

نهم:

الف ـ

$f(0)=1,5 \quad f(-1,5)=-0,375 \quad f(0,7)=3,375$

$f(\pi)\approx 5,427 \quad f\left(\frac{\pi}{2}\right)\approx 3,463 \quad f(u)=1,25u+1,5$

ب ـ $f(x)=-5 \text{ für } x=-5,2$

پ ـ $f(x)>0 \text{ für } x>-1,2$

ت ـ $f(u+2)-f(u)=2,5$ i له u خپلواک دی.

لسم:

الف ـ $P_x\left(-\frac{7}{8}\,|\,0\right) \quad P_y(0\,|\,-3,5)$

ب ـ $P_x\left(\frac{15}{32}\,|\,0\right) \quad P_y\left(0\,|\,\frac{5}{4}\right)$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

یولسم:

الف – ګرافونه د مفصل حل لاندې وګورئ.

ب - $f\left(\sqrt{7}\right) = -1,53557... \approx 1,54$

په دوه لسمیزو راګردیري، نو P په کرښه پروت دی.

پ – د $t > 0,98$ لپاره $f\left(\sqrt{2t}\right) < 0,6$ باور لري.

دولسم:

الف - $f(x) = -\frac{3}{4}x - \frac{5}{4}$ ب - $f(x) = \frac{3}{2}x + 1$

پ - $f(x) = -x - 2$ ت - $f(x) = \frac{1}{3}x$

دیارلسم:

$f(x) = -4x + 5 \qquad f(0,25) = 4 \qquad f\left(\sqrt{2}\right) \approx -0,657$

څوارلسم:

الف - $f(x) = -\frac{1}{3}x + \frac{2}{3}$ ب - $f(x) = \frac{2}{3}x + 3$

پ - $f(x) = -4x + 2$ ت - $f(x) = -3x + 6$

ټ - $f(x) = -4,5x + 6$ ث _ $f(x) = 3x - 1,5$

پنځلسم:

$P_x\left(-\frac{7}{3} \mid 0\right) \qquad f(x) = -\frac{6}{5}x - \frac{14}{5}$

شپاړلسم:

الف - $f(x) = 2x + 5$ ب - $f(x) = -x + a$ پ - $f(x) = -\frac{2}{a}x + 3 \,;\, a \neq 0$

اووه لسم:

الف – تابع مساوات $f(x) = -0,35x + 1,8$

ب –له پنځه اونیو وروسته نوره کافي نه شته

پ – له څلورو اونیو فقط نوره 400 g کافي شته دی.

ت - ګراف د مفصل حل لاندې دی.

اتلسم: بنسټ معاش 2656 € دی، د زیات ساعتون یوځای 21 € .

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

نولسم: الف - $f(x) = \frac{17}{160}x$

ب –

$$f(100) = 10{,}625 \qquad f(250) = \frac{425}{16} \approx 26{,}563 \qquad f(x) = 25 \Leftrightarrow x = \frac{4000}{17} \approx 235{,}3$$

پ – گراف په مفصل حل کې میندل کیږي.

شلم:

الف - $K(x) = 0{,}7x + 200$

ب - $P_1(800\,|\,760) \qquad P_2(2500\,|\,1950) \qquad P_3(4000\,|\,3000)$

پ -

| د لګښت جګوالی | |
|---|---|
| $\Rightarrow \text{Konsumquote} = 0{,}95 \triangleq 95\%$ | معاش ۸۰۰یورو |
| $\Rightarrow \text{Konsumquote} = 0{,}78 \triangleq 78\%$ | معاش ۲۵۰۰ یورو |
| $\Rightarrow \text{Konsumquote} = 0{,}75 \triangleq 75\%$ | معاش۴۰۰۰ یورو |

ټولیزه اویکي

د لګښت جګوالی= $\text{Konsumquote} = \frac{K(x)}{x} = \frac{0{,}7x + 200}{x} = 0{,}7 + \frac{200}{x}$

ت - په 70%د معاش زیاتیدنه د لګښت یا مصرف لپاره ورکولکیږي.

ټ- $S(x) = 0{,}3x - 200$

د $\text{von } S(x)$ صفرځایونه: $S(x) = 0 \Leftrightarrow x = 666{,}\bar{6}$

د صفرځای معنا:

لومړی له € 666,67 معاش څخه کیدی شي زخیره وشي. په دې مودل کې € 666,67 د شتون مینیموم جوړوي. د موجودیت مینیموم کښته یا لاندې پور شروع کیږي، ځکه چې انسانان له یو څه باید ژوند وکړي. ګراف د مفصل حل لاندې میتدل کیږي.

یوویشتم:

الف - $K(x) = 0{,}25x + 360$

